# Hussain Malikpuri's time and homeland.

# د حسین ملک پوري زمانه او وطن


**Abstract:**

Hussain Malikpuri is an important name in Pashto classical poetry. He is the founder of *'Sabak-e- Hindi'*, a particular style in Pashto poetry. His poems prove that he was a poet of the time of Mughal Emperor Aurangzeb. And he was alive at the time of Aurangzeb's death. One of his poems is about the battle fought between Amin Khan and the Mughal forces in the Khyber Pass. This proves that he was older than the famous Pashto poet Rehman Baba. Because Rehman Baba was ten years old at the time of this battle. Hussain Malikpuri was a resident of Malikpur village in Pakhli area in Hazara division. But some researchers believe he was from Swat. The fact is that Syed Hussain Baba of Swat is a different person. Not once in Hussain Malikpuri's poetry collection has the word Syed been written with his name. This article discusses research and critique of Hussain Malikpuri's time and homeland.


**Key words**: Pashto classical poetry, Sabak e Hindi, Mughal Emperor, Khyber Pass, Malikpuri village, Pakhli,

حسین ملک پوري د مغل بادشاه اورنگزیب عالمګیر د زماني شاعر ؤ ـ ادبي مقام ئې خوشحال خان خټک او رحمان بابا نه پس د اولې درجې د کلاسیکي شاعر دے خو متاسفانه چې څۀ رنګ د نورو کلاسیکي شاعرانو لکه خوشحال خان خټک،رحمان بابا ، عبد الحمید مومند ، کاظم خان شیدا ، او علي خان ته د ادب په تاریخ او ادبي تدریس کښې مقام ورکړے شوے دے هغسې مقام حسین ملک پوري ته نۀ دے ورکړے شوے ـ حالانکې هغه د زمانې په لحاظ د رحمان بابا نه هم مشر دے او د فکر و فن په حواله د نازک خیالۍ، او مضمون آفرینۍ ړومبے استاد شاعر دے ـ هغه د سبک هندي هم ړومبے شاعر دے ـ د ټولو نه لویه شاعرانه خوبي ئې داده چې غزل کښې ئې چې څنګه مقامي ژوند ، او فطري مناظر او نور مظاهرکثرت سره استعمال کړي دي هغه خوبي بل یو کلاسیکي شاعر کښې نشته ـ

د حسین د دیوان کومه نسخه چې د همېش خلیل په لاس راغلې وه او هغهٔ په کال ۱۹۵۸ عیسوي کښې مرتب کړې او چاپ کړې ده او هغې کښې ئې د حسین ملک پوري پحقله کوم معلومات درج کړي دي هم هغه د نورو محققینو رهنمائي کوي او نور زیات معلومات تر ننه په مخه رانغلل۔ همېش خلیل د حیسن ملک پوري د زمانې پحقله لیکي:

"دا یقیني طور سره نهٔ شم وئیلے چې حسین د کوم دور شاعر ؤ ځکه چې د هغهٔ په دیوان کښې نه خو چرته خاص تاریخي واقعې ته اشاره شوې ده او نه ئې لکه د اکثرو لرغونو شعراؤ چرته ابجد یا حروفو کښې تاریخ کښلے دے ۔لیکن په اشعارو کښې ئې د ځینو تلمیحاتو او کنایو نه داسې معلومېږي چې حسین د اورنګزیب بادشاه د دور شاعر ؤ۔"(۱)

حسین ملک پوري د خوشحال خان خټک د زوئي عبد القادر خان خټک همعصر معلومېږي خو عمر کښې ترې لوے ؤ۔ د حسین دیوان د عبد القادر خان خټک په مطالعه کښې پاتې شوے دے۔ همېش خلیل په دې حقله لیکي:

"په دیوان ځاے په ځاے د عبد القادر خان خټک د مهرونو نه داسې معلومېږي چې یو وخت کښې دا بیاض د ښاغلي عبد القادر خان خټک د لائبریری زینت ؤ"۔( ۲)

حسین د خپل د دیوان د داخلي شهادتونو په رڼا کښې د رحمان بابا نه مشر ثابتېږي۔ ځکه چې حسین په دره خیبر کښې د مغلو سره د امین خان په جنګ یو شعر وئیلے دے د کوم نه چې د حسین او د رحمان بابا د عمرونو اندازه کېدے شي۔ په دې حقله محمد اقبال خان خپل تصنیف کښې لیکي:

" حسین په دره خیبر کښې مغلو سره د امین خان په جنګ دا شعروئیلے دے:

ځهٔ اوشو د سترګو قافلې مې صبر لوټ کړې
نهٔ شي سلامت تللے مغل په خیبري کښې

دا واقعه په کال ۱۰۸۲ هجري کښې واقع شوې ده او د رحمان بابا عمر دا وخت لس کاله ؤ ځکه چې اکثرو محققینو د رحمان بابا د پیدائش کال ۱۰۲۲ هجري ټاکلے دے"۔(۳)

اقبال خان په دې حقله مزید لیکي:

"د اورنګزيب تخت نشيني په ۱۰۶۸ هجري کښې وه. او که
حسين هغه محال د ۳۰ کالو هم وي نو د حسين پيدائش
۱۰۳۸ هجري خواؤ شا وي. زما ګمان دے چي حسين د
اورنګزيب د تحت نشينئ په وخت به نور هم مشر ؤ." (۴)

اقبال خان د حيسن دا لانديني شعرونه د اورنګزيب عالمګير په دور کښې د حسين د ژوند په حقله درج کړي دي:

چې پروند هندوستاندتختبادشاه ؤ
نن ئې لور زمانې اوتږمبو په ملا کښې

---

چې نوبت ئې غړېدو پرون اورنګ ؤ
زمانې ئې نن په غولي ګډ کړو وير

---

نن په کټ د جنازې ترلے خُله دے
چې پرون ئې غړېدو په در نقيل

ددغه ټولو داخلي شهادتونو نه واضحه ده چې حسين ملک پوري د رحمان بابا نه مشر ؤ او د هغهٔ د ډېرو غزلونو په زمکه رحمان بابا هم غزلونه وئيلي دي. نمونې ئې د ټولو نه رومبے سعد الله خان ايډووکيټ په خپل اردو تصنيف" پشتو کے تين نامور شاعر"" کښې درج کړې دي. داسې نمونې محمد اقبال خان په خپل پښتو تصفيف" حسين ملک پوري"" کښې او سعيد احمد ساحل خپل تصنيف"سپړنې" کښې هم درج کړې دي.

يوه بله متنازعه مسئله د حسين ملک پوري د وطن ده. د محققينو په دې کښې اختلاف دے. د سوات پخوانے بادشاه عبد الجبار شاه، همېش خليل ، سعدالله خان ايډووکيټ، محمد اقبال خان او ځينې نور محققين ئې د هزارې د پکلي علاقې د ملک پور کلي اوسېدونکے بيانوي ځکه چې حسين پخپله وئيلې دي:

په معنٰی کښې ستا خاکروب حلقه بګوش يم
ګني ملک مې دے پکلي استوګنه سوات (۵)

ځینې نور محققین لکه قاضي عبد الحلیم اثر افغاني، ډاکټر محمد علي دیناخیل او سعید احمد ساحل وغیره ئې د سوات اوسېدونکے ښائي ـ د عبد الحلیم اثر افغاني رایه څۀ تحقیقي بنیاد نۀ لري بلکې په قیاس او اندازې ئې یوه رایه وړاندې کړې ده او خپل تصنیف" تېر هېر شاعران" کښې لیکي چې سید حسین د سیدو شریف په جنوب مغرب کښې کوکړۍ نومې کلي کښې اوسېدو ـ دلته اثر صیب د حسین ملک پوري او سید حسین کښې فرق نۀ کوي ـ هغه چې کوم سید حسین یادوي هغه سید حسین بن سید حسن بن میا مصطفٰی بن سید علي ترمزي( پیر بابا) دے ـ خو د حسین ملک پوري په پوره دیوان کښې یو ځاے هم د سید ټکے نشته ـ که هغه د پیر بابا نمسے سید حسین وے نو خپل پوره نوم به ئې چرته یو ځاے خو لیکلے ؤ ـ بله دا چې حسین ملک پوري په خپل یو شعر کښې واضحه طور خپل ملک پکلے یاد کړے دے خو قاضي عبد الحلیم اثر اندازې سره وائي چې کېدے شي دا د کاتب غلطي وي او د کوکړۍ په ځاے ئې پکلے لیکلے وي ـ حقیقت دا دے چې کتابت کښې د املا او د هندسو غلطۍ خو کېږي خو کوکرۍ په پکلۍ بدلول غلطي نۀ شي کېدے ـ او د اثر صیب دا اندازه په دې حواله هم بې بنیاده ګرځي چې هغه د کاتب په غلطۍ کښې یو بل ټکے هم اچوي چې دغه مذکوره غزل کښې دے او وائي چې د سمې په ځاے به سوات لیکلے شوے وي ـ ددې جواب یو بل محقق سعید احمد ساحل ډېر مدلل انداز کښې کړے دے او دا اثر صیب قیاس ئې داسې رد کړے دے:

"د هغوي د کوکړۍ په ځاے د پکلۍ او د سمې په ځاے د سوات د تحریف دا خبره معقول نۀ ښکاري ـ د کوکړۍ په ځاے د پکلۍ خبره خو د تحریف په صورت کښې څۀ لږ ډېر امکان لري ولې د تحریف په صورت کښې د سمې په ځاے د سوات خبره محال ده ـ د حسین بابا دغه شعر چې په چاپ دیوان حسین کښې د کوم غزل شعر دے د هغې مطلع داسې ده:

عاقبت به ما بیکس کاندي میرات
چې دې سترګې ځان ګواښي لکه جلات

د حسین بابا په دې غزل کښې سوات قافیه ده او دا خبره بیخي امکان نۀ لري چې ګني دلته به د تحریف په صورت کښې د سمې په ځاے سوات لیکلے شوے وي." (۲)

دې پورتني اقتباس نه واضحه کېږي چې اثر صيب په يو غزل کښې د دوؤ لفظونو د تحريف کومه اندازه وړاندې کړي ده هغه غلطه ثابتېږي ـ حسين ملک پوري د کوکړۍ نه بلکې د پکلۍ اوسېدونکے ؤ ـ کوکړۍ کښې چې سيد حسين بابا اوسېدلے ؤ نو هغه يو بل شخصيت دے ـ اثر صيب ډېر معلومات په اندازې ليکلي دي نو ځکه د هغوئي دا اندازې څۀ تحقيقي بنياد او جواز نۀ لري ـ لکه د ديوان حسين باره کښې ليکي:چې "د پېښور پښتوادبي ټولي د ديوان حسين په نوم يو کتاب چاپ کړے دے" حالانکه ديوان حسين هميش خليل مرتب کړے او د پبلک آرټ پريس نه چاپ کړے دے ـ په ديوان کښې هيڅ ځاے د پېښور پښتو ادبي ټولي ذکر نشته ـ

سعيد احمد ساحل هم په خپل مضمون کښې حسين ملک پوري او سيد حسين بابا يو شخصيت تصور کړے دے خوزياته خبره ئې په امکاناتو بنا ده ـ لکه حسين ملک پوري چې خپل ملک پکلۍ ښودلے دے نو سعيد احمد ساحل ترې دا امکان څرګندوي چې:

"موجوده سوات کښې پکلۍ نومې تاريخي علاقه ضرور شته او بيا دلته د سيد حسين بابا ژوند په تاريخي اعتبار سره ثابت دے نو امکان لري چې د حسين بابا مراد هم دغه علاقه وي۔" (۷)

دلته يوه خبره خو دا چې حسين ملک پوري او حسين بابا دوه بيل بيل شخصيتونه دي بله دا چې سيد حسين بابا د سوات په پکلۍ کښې که څۀ موده پاتې شوے دے نو دا نۀ شي کېدے چې يو عارضي مقام ته خپل ملک اووائي ـ حسين ملک پوري خو واضحه طور پکلۍ ته خپل ملک وئيلي دي ـ سعيد احمد ساحل پکلۍ د بنير علاقه ګڼي ولې خوشحال خان خټک خو پکلۍ او بنير دوه بيل بيل ځايونه بيان کړي دي اووائي:

د خوشحال خټک خو ښکلے مخ پکار دے
که د سوات که د پکلۍ که د بنير وي (۸)

سعيد احمد ساحل د خوشحال خان خټک ددې شعر په حقله هم د قياس نه کار اخيستے دے او وائي:

"د شعر د تجزيې په بنياد دا قياس کېدے شي چې خوشحال خان خټک به دا شعر د سوات بنير او په موجوده سوات د شاملې پکلۍ په حق له وئيلے

وي کومه چې په هغه زمانه کښې د سوات په شاملاتو کښې نهٔ راتله او جدا علاقه حسابېده." (۹)

د قياساتو په بنياد نه خو د خوشحال خان خټک د شعر تجزيه درسته معلومېږي او نه حسين ملک پوري او سيد حسين بابا يو شخصيت ثابتېږي. ډاکټر اسماعيل ګوهر په دې حق له وائي:

"په چاپ شوي ديوان حسين کښې او د هزارې په بټګلو کښې د ديوان حسين په قلمي نسخه کښې يو ځائے هم د حسين نوم سره د سيد ټکے نشته.څوک چې سيد وي نو د سيد ټکے د خپل نوم نه نهٔ لرې کوي بلکې د فخر په طور ئې خپل نوم سره ليکي. نور ليکونکي هم د سيد ټکے د يو سيد نوم سره د احترام په طور ليکي. چې ديوان حسين کښې يو ځائے هم سيد حسين نهٔ دے ليک بلکې حسين ليک دے او هغه خپل ملک پکلۍ او کلے ملک پور ښائي نو خبره صفا ده چې د هزارې د پکلۍ سيمې د ملک پور کلي اوسېدونکے ؤ او د پير بابا نمسے سيد حسين يو بل شخصيت ؤ." (۱۰)

بټګل(هزاره) کښې په موجود قلمي نسخه کښې د حسين نوم سره چرته سيد نهٔ دے ليکلے شوے. دا نسخه ډېره لړه چينجو خوړلې ده او زياته برخه ئې محفوظه ده. ددې نسخې په حقله سعد الله خان ايډووکيټ ليکي:

*"مذکورہ نسخے کا بیشتر حصہ عباس نامی کاتب نے ہجری سال ۱۲۷۹ میں نقل کیا۔امتداد زمانہ کے باعث کئی صفحات کرم خوردہ ہیں۔"(۱۱)*

ترجمه: د مذکوره نسخې زياته حصه عباس نومې کاتب په هجري کال ۱۲۷۹ کښې نقل کړې ده. د وخت تېرېدو سره ځينې مخونه چينجو خوړلي دي.

چې دواړو نسخو کښې يو ځائے هم حسين ملک پوري خپل نوم سره سيد نهٔ دے ليکلے نو مونږ وئېلے شو چې سيد حسين بابا يو بېل شخصيت دے او حسين ملک پوري د هزارې د پکلۍ د ملک پور کلي اوسېدونکے ؤ.

## References:

1.Hamesh Khalil, dewan-e-Hussain malk pori,Public art press Peshawar.1958,p-د
2.As above, p-ص
3.Muhammad Iqbal khan, Hussain Malakpori, Tahqiq ao tanqid, Pukhto academy Hazara,2018,p.37
4. As above, p-31
5. As above, p-58
6.Saeed Ahmad Sahil, Sparrani, Deer Pukhto Adabi Tolanw Kuz Deer,2020,p-66
7. As above, p-67
8. Yar Muhammad Maghmoom,Doctor, Deewan-E-khush,hal khan khattak,University Book Agincy Peshawar,2016,p-799
9. . As above, p-70
10-Ismail Gohar,doctor,Hussain Malakpuri aw Said Hussain baba, ,mazmoon ghair matbua, mamloka Idara Elm o Adab Baffa
11. Saadullah khan advocate, Pashto kay teen namwar shayir, Jadoon printing press Peshawar,1993,p-64